مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

رناګل اریوبزی ۲۰۲۲/۰۳/۲۴

# د محترم لیکوال، شاعر او مولوي صاحب

## محمد علیم بسمل په حضورکې زما عرض

قدرمن مولوي صاحب!

دروان عیسوي کال دجنوري میاشتې په دریمه اونۍ کې دکابل ښار ځینو میرمنوداسلامي امارت دروان سیاست دځینو برخو په خلاف یو لاریون کړی وچې بلا بیل غبرګونونه یې را وپارول .ما دروان عیسوي کال د جنوري میاشتې په ۱۷ نیټه په « نن ټکی اسیا » کې ستاسې دغبرګون په هکله دا لاندې کرښې ولوستې »:لیکوال او شاعر مولوي محمد علیم بسمل لیکلي کومو ښځو چې نن د حجاب بې حرمتي وکړه سبا به د اسلام د نورو اوامرو بې حرمتي هم کوي، نوموړي د اسلامي امارت په مشرانو غږ کړی دی چې د عمر په لاره تلونکې ځېږ پښتانه دومره پخ مه اموخته کوئ چې د هرې نادودې په وړاندې خاموش پاتې شي، دوی ته اجازه ورکړئ چې د اسلامي نظام توهینونکې وځپي چې بیا څوک دا ډول جرئت ونه کړي ».غوښتل مې چې په دې هکله دا لاندې کرښې په خپل وخت ولیکم، خورنځورۍ پرې نه ښودم. له دې امله پوهیږم چې لیکنه مې یو څه نا وخته یا بې وخته ده، خو بې اهمیته ځکه نه ده چې ستاسې لیکنې اوځرګندونې زما په شان دیوه عادي وګړي لیکنې اوځرګندونې نه دي بلکې ترشا یې ادیب، شاعر اوروحاني شخصیت ولاړدی، نوځکه ګمان کیږي چې دېرلوستونکې او اوریدونکې به لرې او اغیزې به شندې .له د امله مې لازم وګڼله چې ستاسې د پورتنیو کرښو په هکله خپل نظر درته وړاندې کړم .

محترم مولوي بسمل صاحب که رښتیا در ته ووایم زه په خپله نه شاعر یم اونه ادیب. خود لوی خدای په فضل زموږ په تاریخ کې دا سې کسان تیرشوي دي چې هم وتلي او منل شوي شاعران او ادیبان وواوهم لوی لوی دیني عالمان وو، چې موږ ورڅخه ډیر څه زده کولی شو .یوله هغوی نه خدای بخښلی ګل پاچا الفت و .الفت صاحب لیکي چې:« مسلمانان دایمان او عقیدې ځای ته زړه وایي .صبر، رحم، کرم، شجاعت، سخاوت د زړه کار دی. عشق او مینه په زړه کې وي. شعر له زړه الهام اخلي او د زړه سره سرو کار لري ».مانا دا چې شعر او ادب له مینې ډک د زړه له تله را پور ته کیږي، دزړونو په لورځي، د زړه نه زړه ته د مینې پیغام رسوي. نو ځکه شعر او ادب او په همدې ډول شاعر او اد یب په مینه کې سرشار وي، کینه دښمني او غوسه نه پیژني، زور، جنګ، شور اوشر اوپه همدې ډول د ځپلو، وهلو او ډ بولو نه له سره کرکه کوي .شاعر او اد یب د صبر، رحم، عدل، کرم اوزغم خاوند وي اودانسان دا اوصاف شجاعت اوډایمان بنسټ بولي اوځپرول یې ایماني او حرفوي د نده ګڼي .

محترم مولوي بسمل صاحب! که خپل ایمان خوار نه کړم او رښتیا ووایم نو ستا په دې پورتنې څرګندونه کې درحم، کرم، دمینې او ورورۍ او په همدې ډول د شعري او اد بي خیال اوارمان کومه نښه او نښانه نه لیدل کیږي، هلته په ځپلوبیدریغه ټینګار شوی دی او ځپل، وهل، ډبول اونا بودول له مینې څخه نه بلکې له کینې، د رحم او کرم څخه نه بلکې دغضب اوغوسې څخه را پورته کیږي او داسلام په مبین د ین کې دهیڅ سیاسي او تولنیز نظام د ټینګښت او پایښت اغیزناکه وسیله نه ګڼل کیږي .حضرت عمر فاروق)ض (فرمايي چې »:دهر دولتي نظام برياليتوب او قوت د چلوونکو په عدالت، صداقت او انصاف پورې تړلی دی ».حضرت عمر (ض) د حکومتولۍ په هکله نوري څرګند وني هم لري او فکر کوم چې مولوي صاحب بسمل په ترې خبر وي او که په رښتیا او د زړه له کومې د اسلامي نظام داستحکام او دوام سره مینه لرې، نو » دعمر په لاره تلونکي زیږ پښتانه »به د یو څو اعتراض کوونکو میر منو ځپلو ته نه هڅوي بلکې دحضرت عمر فاروق (ض) سیاسي اخلاق او دهغه دحکومتولۍ عملي اصول ) عدالت، صداقت او انصاف ( به ور زده کوي .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

مولوي صاحب، متاسفانه دوخت په تیریدو سره ورو ورو دي بایلي ته رسیږم چي زموږ طالبان په ځان اوخپل اسلامي امارت ترپولي زیات مین دي، په خپل اسلا مي امارت او په خپل علم اوعمل کي له سره عیب او نیمګړتیا نه ویني، ځانونه ورته د نړی تر ټولو مسلمانانولږ اوسوچه مسلمانان اوخپل حکو مت اوسیاسي نظام ورته د ټولي اسلامي نړی ترحکومتونو سوچه او بي عیبه اسلامی نظام ښکا ري، نو ځکه افغان ولس باید په زرګونو شوکرونه وباسي چي طالبان لري او داسلا مي امارت په شان سیاسي نظام لري اوځوک چي د دې سوچه او بي عیبه اسلامي نظام د بي عیبه اوسوچه مسلمانو آمرانو له امرونو یوه کوچني سرغړونه هم کوي، نو دوی به یي داسي ځپي چي بل ځوک بیا د داسي سرغړوني جرأت ونه کړي .مانا دا چي داسلامي امارت چلوونکي دنور بشریت او د ټول عالم اسلام په خلاف دهر عیب او هر ډول سهوې او خطا نه مبرا دي، هر امر چي کوي، نور به یي په پټو سترګو مني .
محترم مولوي صاحب بسمل !هیله مي داده چي تاسي به داسلامي زده کړو په رڼا او دشعر او ادب په خیالونو کي دا ښکاره وي چي د نړی دټولو ښیګڼو انحصارول یاني په ځان کي دټولو ښیګڼو لیدل او په بل د ټولو بد یو ور تپل، ځان له نورو لوړ اوبل له ځانه ټیټ بلل، ځپل فکر او خپلي ارا دې ته د مطلق حقیقت په ستر ګه کتل او په نورو یي په زور تحمیلول او د بل فکر او ارادې ته هیڅ ارزښت نه ورکول د ديني اوعقلي بنسټ نه لري، یوازي غروراو تکبر دی .له هر څه دمخه باید په دې پوه شوچي هر انسان که له یوې خوا د ښو کړنو خاوند دی، نوله بلې خواتیروتني هم لري، که په دې یا هغه برخه کي دپراخي او ژورې پوهي خاوند هم وی، خو بیاهم دانسان پوهه نسبي یاني دزمان اومکان په چوکاټ کي بنده ده، دوخت په تیریدو وده او پر مختګ کوي، خود زمان او مکان چوکاټ نشي ماتولی اومطلقي بشپړتیا ته نه شي رسیدلی، نو ځکه هیڅ انسان له انساني تیروتنو او اشتباهاتو مستثنا کید لی نه شی . داسلام په مبین دین کي یوازې او یوزې لوی پرورد ګار بې عیبه، مطلق عاقل او کامل ذات دی، نوځکه هیڅ مسلمان، عاقل او هوښیار انسان ته ځان کامل او بې عیببه نه ښکاري. خوشال خټک چي، دپښتون په تاریخ کي تراوسه په ديني اوعقلي علو مو کي ساری نه لري، لیکي:

صحبت چي نه وي له ښه احباب سره | عمر تیریږي له ډیر عذاب سره
هوښیار هیڅ چیرې بې غلطی نه وي | خطا ترلې ده اهل صواب سره

هوښایر اواهل صواب مسلمان ځان له غرور اوتکبر نه ساتي، ځکه په دې پو هیږي چي خطاوې، غلطی او تیروتنې انساني اوصاف دي، دا په دې مانا چي هیڅوک، که لوی عالم، روحاني اوحتی که دطالبانود خوځښت غړی هم وي، انسان پاتي کیږي او هر عاقل انسان په دې پوهیږي چي چي خطا اوتیر وتني له هر انسانه سر وهي، یوازې دعقل نه بې برخي وګړي په دې حقیقت نه پو هیږي، د حضرت لقمان) ع (نه ځان لوړ بولي، د فرعون په لور روان وي، نیغ نیغ کیږي، له وهلو، ټکولو او ځپلو، په بل څه نه پوهیږي .خوشال خټک ټینګار کوي چي:

که عـقل لاړ شـــي لـه دې جهـانـه | هیـڅ پاتي نـــه شـــي ای زما جـانـه
هیڅوک به نه وايي چي زه نادان یم | هرڅوک به ښه ګڼي ځان تر لقمانه

محترم مولوي صاحب بسمل، لوی پروردګارډې موږ اوتاسي له داسي علمیته وساتي چي د سر په کیږی کي منفور غرور اوتکبر راپیداکوي اوځانونه دلقمان (ع) نه لوی عالمانرابښکاره کوي .موږ ځانونه دخپل پروردګار (ج) ساده اوګنا کار بند ګان بولواو په دې پوهیږو چي دلوی پر ور دګار په دې پراخه جهان کي اوحتی په خپل ټا ټو بي اومکان کي د ډیرو حقایقو د پیژندلو نه بي برخي پاتي یو، نو ځکه ضرور دي چي دا سپین ځادرونه لږ څه له سر اوسترګو پورته کړو اودا خپل هیواد په رڼو ورځ په رڼو سترګو ووینو، بیا به د نورو تر ځنګ دا هم رابښکاره شي چي اوږد او بي رحمه جنګ په زرګونو ځوانان په شهادت رسولي دي او په زرګونو تور سری کونډې تري پاتي شوي دی . د دې کونډو یوه برخه - زیاته برخه یي په ښارونوکي - په کار لګیا وه او له دې لارې یي اولادونو ته روزي پیدا کوله. په اسلامي امارت کي یي نه یوازې کار او ورسره سم داولادونو روزي له لاسه ورکړه بلکي په ژوند کي د نورو غیر ضروري بندیزونو سره هم مخامخ شوي .حقیقت خو دادی چي زموږ ملا او مولوي صاحبان د دنیوي کسب یا حرفي او کار سره چندان علاقه او هیڅ ډول رابطه نه لري .که څه هم دحضرت محمد(ص) څر کند حدیث دی چي کسبګر د الله تعلی (ج) دوست دی، خو دوی دخپل خالق سره دوستي د کار او کسب په ځای په مستحبو نفلونو کي لټوي .وینو چي دکار او کسب تر ټولو لویه ګټه دپاک الله تعلی دوستي ده، ځوک چي د خپلو متواومغزونو په ستومانه کولو د ځان او اولاد ژوند تأ مینوي د بنده له بندګی ازادوي، د چا ذکات، شکراني یا سقات ته تمه نه کوي او یوازې خپل خدای ته عبادت کوي .کسبګر روحاني د خپل کار او کسب له لارې دخپل ولس سره هم په اړیکو کي وي، هم یي په کار کي په ستونځو پوهیږي او هم په دې پو هیږي چي که کار ترې واخیستل شي نو اولا دونه یي دلوږې سره مخامخ کیږي .بیا نو دبیکارۍ په ضد داعتراض کوونکو میر منو د ځپلو غوښتنه نه کوي بلکي دهغوی سره په ګډه د ستونځو د حل لارې چارې لټوي .حضرت عمر فاروق ) ض ( فرمايي چي »:دیو چا لمانځه او روژې ته نه بلکي دهغه ښو معاملو، انساني خواخوږی، پوهي او رښتین ولی ته ګوری «.منم چي دا لار له ستونځو ډکه ده،


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ډیر کار، زیار اوخواري غواړي، خو دهیواد نوم یالی روحاني شخصیت، وتلی او منل شوی شاعر او ادیب خدا بخښلي ګل پاچا الفت لیکلي دي چې:

**ځو رکاته نفل کول شیخه دومره کران نه دي        خدای خوشالول جنت ګټل دومره اسان نه دي**

قدر من مولوي صاحب، تاسي د اعتراض کونکو میرمنو د ځېلو له پاره « د عمر په لاره تلونکي ځیرڼ پښتانه » کې مناسب ضربتي ځواک وینی. هو! پښتانه دعلومو او فنونو په زده کړه کي تر نورو ولسونو وروسته (ځیرڼ) پا تې دي او تر ټولو مهم علت یې هم دا وچې یوه بشپړه پیړۍ ور ته ویل شوي دي چې که ځوک، لور خو لا پریږده، خپل زوی هم ښوونځي ته ولیږي، نو تر اوه نسلونو پورې به د دوزخ په سرو لمبو کې سوزي .د دوزخ دسرو لمبو له ویرې یې خبل بچیان ښوونځیو ته نه لیږل، نو ځکه دنورو ولسونوپرتله دعلومو، فنونو، حرفو او کسبونو د زده کړو نه بې برخې پاتي شول اوزر غولیږي .سره له دې هم موږ پښتانه د نړۍ د نورو ولسونو په شان ځانګړی کلتور لرو چې پښتونولي ورته وایي .په پښتونولی کې میرمني ته د ښځینه جنس له زاویې نه کتل کیږي بلکې د هر څه د مخه یې دخدای مخلوق ګڼي چې کله نوې دنیا ته راشي، نو یوه لور وي او که خدای ورو ورکړي نو خور هم شي، کله چې واده وکړي، بیا نو میرمن شي او که خدای او لاد ور کړي د مور عالي مقام تر لاسه کوي. پښتانه د لور، خور، میرمني او مور د پت اوعزت دساتلو په لارکي سراو مال قربانوي، خو دساتني تر ټولو ښه لار یې د بل چآ لور، خور میرمني او مور پت اوعزت ته په درنه سترګه کتل ګڼي .له دې امله که » د عمر په لاره تلونکي ځیرڼ پښتانه «په بد ن کې د پښتونولی یو کوچنی ځاځکی هم پاتي وی، د بل په تورسرۍ به لاس پورته نه کړي .دا » ځیرڼ پښتانه » دا هم ویني چې دېښي نه ځو ورځي وروسته په همدې کابل کې ځلورزره افغاني میرمنو په ګډه په امریکا کې دافغانستان بانک داسعاري زیرمو دکنګل کولوله امله دامریکا حکومت په ضد لیکل شوي اعتراض وکړ .بیایې تکراروم چې دا اعتراض افغاني نارینه وو یا افغاني طالبانو نه بلکې افغاني میرمنووکړ .منم چې دا میرمنې به هغه جامي نه خوښوي چې تاسي یې ورته مجبوروي، خو دوی په تن جامي لري او په سرتکري .په تن جامي او په سر ټکری بې حجابي نه دی، بلکې داډول لباس چې سر او تن پټوي هم اسلا مي دی.په افغا نستاه کې بیلابیل قومونه اوسیږي او دهر قوم جامو تر زیاتي اندازې خپل قومي او سیمه ئیز هویت ساتلی دی، خوټولي بیا په خپل وار په اسلامي اصل او دستوربرابري دي .ملاله په پښتني لباس کې د اسلام او هیواد نه د دفاع له پاره دغازیانو سره دهغوی د خور په توګه دمیوند جبهې ته ولاړه او دغازیانود بیرغچي دشهادت په وخت کې یې ملي اواسلامي بیرغ وچت وساته او یوي ناري یې دغازیانو شهامت دا سي وهڅاوه چې په دې جبهه کې یې دانګریزانو لښکر تیښتي ته مجبورکړ .ملالی دغز او دهیواد نه د دفاع په دې جبهه نه چاد ري او نه یې دتورې خیمې په شان دابل شی، چې مایې په رښتیا نوم نه دی زده، په سر کړې وې، هغې افغاني دو دیز ټکری په سر، د دین او هیواد نه دفاع کوله .په همدې ډول نازو انا، رابعه بلخي اوعایشه دراني او داسي نورې هغه افغاني میرمني وي چې په پوهه، شعر او اد ب کې تر نارینه هم مسلکانو کمي نه وې .

قدرمن مولوي صاحب! فکر کوم چې دځینو ملا صاحبانوستونځه داده چې میر منو ته یوازې او یوازې دجنسیت له زاویې ګوري او دا لید له سره دجنسي غریزې نه سر چینه اخلي .که دخپلې جنسي غریزې په ضد بې امانه جهاد، چې دنفس په ضد جهاد اوجهاد اکبر هم ورته ویل کیږي، اعلا کړواو په دې جهاد کې تر یوې اندازې برۍ هم ترلاسه کړو، بیا نو په دې حقیقت باندې دپو هیدو امکان هم شته دی چې میرمن هم د نارینه په شان دخدای ) ج ( بنده دی اودهغه لوی ذات په دربار کې د ده ټول بند ګان سره یو شان دي او د دوی ترمنځ د ښه او بد توپیرپه جنس پورې نه بلکې دهغوی په اعمالو پورې اړه لري .له همدې امله افغانان دشاشجاع، کارمل، حامد کرزي او داسي نورو په نومونواو کړو وړو شرمیږي او د میوند ملالي په نوم او اعمالو ویاړیږي .په پای کې په ډیره خواشینی باید و وایم چې دطالبانو نظریې او کړه وړه ) دښځو دځېلو په هکله دبسمل صاحب غوښتنه، د پوهنتونو استادانو ته د لوړو او مسلکي تحصلاتو وزیر مولوي عبدالباقي حقاني توهینوونکي بیاني او د ټولو کړو وعدو په خلاف دجونوو په مخ د ښوونځیو در وازو بیا ترل ) او داسي نور مې ورو ورو دې پایلې ته رسوي، چې په دې لیکنو د میرمنو، علم او پوهې او دملي دود اورواج په وړاندې دطالبانو ژوره کینه او کلکه عقده نرمولی نه شم، خو دنظر څرګندول دځان حق ګڼم او له دې حق څخه تیریدلی نه شم.

په درناوي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ